8--همايون اشرف ډاکټر، اردو صحافت ،مسائيل اور امکانات (دهلي، عفيف آفيسټ پرنټرز، چاپ کال ۲۰۰۶ء) مخ، ۵۶

9- کهوکهر محمد افتخار، تاريخ صحافت (اسلام اباد: مقتدره قومي زبان چاپ کال ۱۹۹۵ء) مخ، ۳۷

10- http://www.geourdu.com/columns-and-articles/mobile-al-social-human-social-advantages-disadvantages/

11- همدغه لوړ

12- همدغه لوړ

13- همدغه لوړ

14- همدغه لوړ

15- همدغه لوړ

16- همدغه لوړ

# متل او پښتون چاپېريال: تحقيقي او تنقيدي مطالعه

# ROLE OF PROVERB IN PASHTOON SOCIETY: A CRITICAL ANALYSIS

Muhammad Naeem Kakar*

Abdul Rehman Kakar†

(Corresponding Author)

**Abstract**

* M.Phil. scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

† Faculty Member, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta

*The authors of this paper tried to shed light on the Paremiology, significance and role of proverb in society. Its simplicity, brevity and metaphoric nous multiply its prominence. This is how allegorical meanings of the proverb lies in its expert interpretation not on word by word translation or what it seems to be. Moreover, the languages literarily considered rich in terms of literary assets when it has had a huge strength of proverbs. Among which the Pashto has no exemption.*

*This motivated the orientalists as well Pashto folklorists to execute research on in the prescribed field of study. And thus compiled dozens of valuable books on proverbs in Pashto. However, still scientific research in the said field is yet to be carried out due to which a missing space is direly felt in literary arena. The scholars have strived to cover its importance, allegorical meaning and usage in classic literature.*

## د متل پېژند ګلوي:

متل د يوه قام د ټولنيزي پوهني، نفسياتو، کلتور، مذهب، اقتصادي او ټولنيز ژوند هينداره وي چي په لنډو ټکو کښې ژوره معنا په کنايي توګه ښندي. د پوهانو په نظر کښې متل د يوې ټولني د سپين ږيرو د اوږدې تجربې په رڼا کښې مينځ ته راوړل شوي له حکمته ډکي ويناوي وي. ډاکټر عبدالله جان عابد په دې هکله وايي:

"ضرب المثل عربی زبان کا لفظ ہی، جس کی مترادفات دنیا کی دوسری زبانوں میں بولی جاتی ہیں۔ اُردو زبان میں ضرب المثل، اکھان اور کہاوت ایک دوسری کی مترادف ہم معنی اصطلاح کی طور پر مروج ہیں، جبکہ پشتو میں اس کی لیی "متل" کی اصطلاح مروج ہی۔ ضرب المثل لفظوں کا وہ مجموعہ ہی، جو ہماری بزرگوں کی تجربات، ان کی فکری یا معنوی احساسات، ان کی زندگی میں گزرنی والی واقعات یا ان کی زندگی میں رونما ہونی والی اُن سانحات کی کہانی کو دو یا دو سی زائد الفاظ کی ایک ایسی ترکیب ماحول میں مرتب کرتی ہیں، جس میں مصدر یا افعال کی تجربات اور مشاہدات

کی تخلیقی آہنگ سی مرتب ہو کر صدیوں کا سفر کرتی ہوئی ہماری تہذیبی، فکری اور لسانی زندگی کا ایسا لازمہ قرار پاتی ہی، جس کی اندر ہمیں عوامی ذہانت اور اسلاف کی زندگیوں کی وہ دانشمندانہ رویی دکھائی دیتی ہیں کہ اُس سی کہاوت، ضرب المثل یا "متل" اپنا تخلیقی اظہار پاتی ہی۔"(۱)

ژباړه: متل د عربي ژبې توری دی چې په نورو ژبو کښې مترادفات لري.په اردو کښې ضرب المثل، اکهان او کهاوت هم معنيزه توري دي، خو پښتو کښې دې ته متل وايي. متل د دوو يا دوو څخه زياتو تورو داسي مجموعه ده چې په کښې زموږ د سپين ږيرو د تجربو، د دوی د فکري يا معنوي احساسات، د دوی په ژوند کښې پيښې شوي کيسې يا ناشونې پيښې وي. په دې کښې د يو چا د تجربو او مشاهدو په رڼا کښې مرتب شوې وينا چې د پېړيو يون کولو وروسته يې زموږ تهذيبي، فکري او لساني ژوند نه شلېدونکې برخه ګرځېدلې وي؛ چې په هغه کښې عوامي پوهه او د خپلو سپين ږيرو پوهانوځيرکتيا برېښي، چې وروسته د کهاوت، ضرب المثل يا متل په بڼه کښې تر موږ پورې رارسيږي.

متلونه د هرې ژبې رنګيني وي؛ ژبه په ښائسته وي او د دې ماسوا ژبه بشپړه نه ګڼل کيږي. متل چون په پېړيو پېړيو مينځ ته راغلی وي، څکه دا د يوې لرغوني او اوږده سابقه لرونکې ژبې نخښه وي. په دې کښې تاريخي پيښې، حقائق او د متعلقه ژبې د ويونکو له ژوند سره تړلي ټول خواږه او تراخه پراته وي. په دې شان متل نه يواځې مثبت اندونه يا ويناوي وي بلکې په دې د کرکې، پېغور او طنز اړخ هم وي. څکه خو ورته د يو قام هينداره وئيل کيږي چې په کښې د هغه کام د ټولنيز ژوند سره تړلي هر ډول مراسم په خوندوره توګه ځای کړل شوي وي. د پښتانه له کور څخه نيولې تر حجرې او جومات پورې په ټول ژوند کښې برېښي. په پښتني ټولنه کښې د وراسې خلک هغه څوک ګڼل کيږي چې په مرکه کښې خوله ور وي او خبره د روغېدو يا خلاصېدو باندې پوهيږي خو تر هغه وخته چا ته دا اعزاز ورپه برخه کېدلای نه شي چې پر متلونو باندې ښه عبور و نه

لري. که دا ووایم چې پښتني ټولنه کښې د قرآن او حدیث ورسته و متلونو ته زیات غور نیول کیږي نو ناسم به نه وي. له همدې سوبه یې له ارزښت څخه ډډه نه شي کېدلای.

د متل پر ارزښت او نورڅه خبره کولو مخکې باید د دې مقالې د څېړني پر طریقه خبري وکړو او بیا وګورو چې د مستنده لیکوالانو یا ادارو له خوا متل څه ډول معارفي کړل شوی دی،او د دې تعریفونه یې څه ډول کړي دي.

**د څېړني طریقه کار**:

زموږ دا څېړنه په بشپړه توګه معیاري څېړنه ده خو متلونه په کښې له بېلابیلو لیکل شویو منابعو څخه تر لاسه شوي دي. دا څېړنه به یواځي هغو متلونو ته پاملرنه لري چې په کښې د شناخت، جنس، مذهب، کلتور او نور ټولنیز انځورونه په کښې وړاندي شوی وي. د دې څېړني دائره کار تر سهېلي پښتونخوا پوري محدوده دی.

**د متل تعریف**:

په انګلیسي کښې د متل په هکله څېړنه کولو ته پېري میالوژي وئیل کیږي چې اصل یې یوناني دی. د متل تعریف ویکي پیډیا داسي کوي:

> “**Paremiology** (from Greek παροιμία *paroimía*, "proverb, maxim, saw") is the collection and study of proverbs.”(2)

ژباړه: د متل ټولولو او د هغه مطالعه کولو ته پېریمیالوژي وئیل کیږي.

له بره ذکر شوي تعريف څخه د متل معنا او لرغونتوب دواړه په ګوته کيږي چي د انګليسي پرو ورب له يوناني څخه اخيستل شوې کلمه ده خو د متل کلمه هيڅ ژبنۍ اړيکي له دې سره نه ښکاره کوي؛ پر دې اساس پوهان په دې نظر دي چي پښتو ته متل له عربي ژبي څخه راغلې کلمه ده. په عربي کښې ورته مثل وايي ځکه دا کلمه مفغن شوې ده.

وتلی ليکوال نواز طائر د متل په هکله ليکي:

"متلونه زموږ د عوامي ادب په شان زموږ مشترک قومي ميراث دی، دا د خپل خوږوالي معنويت او برجستګي په وجه د مافي الضمير په بهترادائيګي او په حسن بيان کښې په اضافه کولو کښي مدد ګار ثابتيږي"(3)

لکه څنګه چي په تېرو کرښو کښې ذکر وشو چي د متل پرته ژبه نيمګړې وي. له رنګينۍ او خوږلت څخه خالي وي. په دې سوب د نړۍ ټولي شتمني ژبي متلونه لري.په ځانګړې توګه هغه ژبي چي ورته لوړي ژبي يا پرمخ تللي ژبي وئيل کيږي، ټولي په زرګونو متلونو لري چي د دوی اولسي شتمني په کښې خوندي ده.

"This is evident from the ways the research participants defined proverbs. They emphasised either the rhetorical power of proverbs…taste of the talk …weapons of verbal attack…or their traditional authority in transmitting wisdom…relics of the past glory…concentrated knowledge."(4)

ژباړه:د څېړونکو څېړوني په ګوي چي د متل تعريف يې ډول ډول کړئ دی. دوی کله د متل سحر انګېز اثر په ګوته کوي... کله په خبرو کښې خوند پيدا کېدو دپاره ... خو پر

مخاطب باندي د خبرو ګذار دپاره هم کارول کيږي... يا د نصيحت په توګه... د تېرې زمانې وياړنو ته اشاره کول... په لنډو خبرو کښې ډېر څه وئيل او داسې نور.

موږ ووئيل چې متل په اصل کښې د عربي له مثل څخه وتلې کلمه ده، د يوناني يا بلې ژبې رېښه يې هيڅ ثبوت نه لري. ځکه د عربي پوهانو د متل تعريف راوړل اړين دي.

" دمتل" لفظ د عربي لفظ "مَثَلُ" سره تعلق لري په سامي ژبو کې "ت" په "ث" بدليږي لکه واخلې يا فت يا فث ،دا بدلون په عربي ژبه کې عام نه دی، ما په عربي کښې د متل لفظ د متل شکل کښې چرته هم نه دی ليدلی. د عربي "م" ، "ث"،"ل"، د مادې (Root) نه د عربي د قاعدو ترلاندې ګڼ استقامات کولی شي. د دغې مادې لفظ ( مِثلُ) هم ځنې وخت د مَثَل ، معنا ورکوي او جمع يې امثال ده".(5)

من حيث القوم د يوې انساني ټولني افتخارات، احساسات او نفسياتو دپاره متل يوه داسې بې مثله خزانه ده چې دا ټول په کښې خوندي ساتلای شي. خپلو تجربو، علمي ودو، ادبي ، کلتوري افتخاراتو سرمايه يې خوندي ساتلې ده. نامتو فولکلور پېژندونکې يا پوه غوټۍ خاوري د متل په هکله خپل نظر داسې څرګند کړۍ دی.

"متل هغه جمله ده چې د پښتو غيرتي اولس د افکارو او روحياتو استازي او زمونږ د تېرو نيکونو د سپېڅلو احساساتو ترجماني کوي.او د هغوئ د ژوند فلسفه په کې نغښتې ده"(6)

ثروت رسول د متل وضاحت په لږ بېلتون سره کوي او دا ګمان څرګندوي چې د متل عمومي تعريفونو باندې خبره کېدلای شي. چونکه څېړنه يې د جينډرز په هکله ده ځکه يې هڅه کړې پر له هغه نظره يې په ثبوت ورسوي.

"As far as the definitions of a 'proverb' are concerned, they are based on precision, origin in human experience, social phenomena, folklore and general truth. If one keenly look at all the 'definitional components', truthfulness is quite challenging of all because it is not the absolute truth rather it is the societal interpretation of the truth" (7)

ژباړه: تر څو چي د متل د تعریف خبره ده، د دې اساس پر اختصار، انساني تجربې، ټولنیزمظهریتونه،فولکلور او عمومي حقیقتونو باندي دی. که دې ټولو تعریفونو ته په ځیر وکتل شي؛ په دې ټولو کښې د ریښتوني حقیقت خبره ته تم کېدل په کار دي ولي دې ته هغه ډول حقیقت نه شو وئیلای بلکې دې ته به د حقیقت ټولنیزه تشریح ووایو.

**د متل کنایي مهفوم:**

د پیغام رسولو یا خپل مقصدواضح کولو دپاره چي کله متل کارول کیږي نو دا زیاتره کنایي Figurative معنا څخه کار اخلي. یاني د متل توري خپله معنا نېغ په نېغه نه ورکوي بلکې کنایي معنا ښندي خو دا ضروري نه ده. ولي ځیني داسي متلونه هم شته چې نېغه معنا ښندي، لکه "اول ځان پسې جهان یا بې زحمته راحت نشته یا په ډېري کښې خوره ، په لږې کښې وېشه "8. خو دغه ډول متلونه بېخي لږ دي چي نېغ په نېغه معنا ښندي نو ځکه زیاتره پوهان په دې نظر دي چي متل د حقیقي معنا پر ځای کنایي معنا ښندي.

د کنایې په هکله سید تسنیم الحق کاکاخېل لیکي:

"کنایه د صراحت ضد دی، یعنی یو شی نه څرګندول او په اصلاح کښې دې ته وئیلې شي چې یو لفظ د خپلې حقیقي معنی پرځای بله معنی کښې استعمال شي. په داسې طریقه چې خپله معنی یې هم مراد کېدی شی اګرچه دالته مراد نه وي."(9)

پیاوړی څېړونکی دوست محمد دوست د متل د کنایي مفهوم په ورکولو ډېر ټینګار کوي چې متل نېغه معنا کله هم نه ورکوي. دی لیکي:

"د متل ستر خصوصیت دا دی چې کنایي معنا افاده کوي، که خپله اصل او حقیقي معنی افاده کړي هغه بیا متل نه بلل کیزي."(10)

**متلونه او پښتون چاپېریال:**

اوس راګرځو چې پښتو متلونه د پښتون چاپېریال څه ډول انځورګري کړې ده؟ په دې متلونو کښې هغه کومې ځانګړتیاوې، ژورتیاوې او حقائق دي چې دوی ته یې ارزښت ورپه برخه کړئ دی؟ نور ثناءالدین په دې هکله د اکبر ایس احمد په حواله په خپله پي ایچ ډي مقاله کښې داسې لیکي:

"The anthropologist Akbar S. Ahmad has noted that Pashtunwali is unwritten but could be found in the themes of proverbs, metaphors and parable" (11)

ژباړه:انتهراپالوجسټ اکبر ایس احمد لیکي چي پښتون ولي که څه هم یو نالیکلی ځیز دی خو بیا هم په اخلاقي حکایاتو، کنایاتو ، تشبیهاتو یا ضرب الامثال کښې موندل کیږي.

**متل دی چي:**

"دغریب ملا په اذان ځوک روزه نه ماتوي."(12)

دا متل د پښتني ټولني طبقاتي نابرابري باندي زوراور نقد دی. په دې متل کښې دا په ګوته شوي چي غریب که هر څوک وي هغه ته په شتمنه ټولنه کښې په سپکه سترګه کتل کیږي. د ملا کلمه یې په دې سوب ورزیاته کړې چي ملا چون د الله او د رسول خبري کوي خو بیا هم که غریب وي خبره ته به یې څوک غوږ نه نیول کیږي. که دی هغه خبري کوي چي په کښې هیڅ شک او شبه نه وي خو څوک به یې منلو یا پر هغه غوږ نیولو ته تیار ځکه نه وي چي وئیلو والا یې غریب دی. په دې متل کښې د غریبي طبقې هر ډول حقوق غصب شوي دي. یاني که غریب سړی هر څومره هوښیار او په کار پوه سړی وي خو د ده دانایي په داسي ټولنه کښې و ده ته هیڅ فائده نه شي رسولای. ولي چي د دې ټولني اساس پر مادیت دی ځکه چي مادي شتمني نه لري له هغه څخه هر ډول ټولنیز حقوق اخیستل شوي دي.

په دې متل کښې د پښتني ټولني داسي ناوړه سوچ ته اشاره شوې ده چي غریب یې په نفسیاتي توګه مات کړئ دی. پر غریب یې یو ډول دائره راکښلې ده چي باید په هغه کښې د ننه ژوند وکړي. په دې ډول بې وسه وګړي د وخت د واکمن له خوا هر وخت په ذهني دباو کښې ژوند کوي. که یو وخت په غیرشعوري توګه تر خپله دائره ووزي، ریشخند په وهل کیږي. پر ټولنیزه سویه یې سپکاوی کیږي او ورته وئیل کیږي چي پلار یې څه کول او دی څه کوي. دغه ډول پروپاګنډ د شتمنو له خوا په ټیټه طبقه پسي

هغه وخت پېل شي چي دوی په شعوري توګه د دوی له مصنوعي دائرې څخه وتلو هڅې په ښکاره پېل کړي. دغه ډول متلونه هم پسي جوړ شوي دي چي د پروپاګنډ په وخت په کار راوستل کيږي. لکه:

دخوار په لاس کې غلمينه ډوډۍ عيب ده. يا خوار تلتک نه وو ليدلی ، چې پيدا يې کی تر ځاښته پکښي بيده وو. يا خوار سړی ابلک يې سپی، رنګه متولونه چي د خوار په هکله شوي دي.په دې کښې بيا هم تر ټولو دردوونکې دا وي چي دا پروپاګنډ هم د غريب يا متوسطې طبقې له خوا په بل غريب پسي کيږي؛ ولي چي د دوی خو بحثيت مجموعي داسي روزنه شوې وي چي په هغه کښې د پراخ نظر لرلو يا و ښه ته په ښه وئيل او بد ته په بد وئيلو هيڅ تصور نه وي. په داسي ټولنو کښې دا رحجان هم زيات په نخښه شوی چي د شتمن و ناوړه عمل ته په بد نظر نه کتل کيږي خو د غريب پر کوشنيو تېروتنو کلکي نيوکي کيږي او د هغه شخصيت په شعوري توګه داغي کېدو هڅي کيږي.

> The thesis concludes that, rather than considering folk proverbs as ‗factual‘ and ‗valuable‘ sources of cultural expression, scholars should pay more attention to their ‗performatory‘, ‗derogatory‘ and ‗declaratory‘ aspects as these often relegate women (and ‗other‘, weaker groups) to a lesser position in society.(13)

ژباړه: په دې څېړنه کښې څېړونکی په دې پايله رسېدلی دی چي و متلونو ته د اولسي شتمني د يوې لويي خزانې په سترګه کتولو پر ځای بايد پوهان يا څېړونکي دې ته توجه ورکړي چي په دې کښې پر کمزوره يا ټيټه طبقه کوم نقد يا طنز کيږي هغه و غندي.

لکه څنګه چي په پېل کښې یادونه شوې ده چي متل د یو قام د ژوند هینداره وي ځکه په متلونو کښې یواځي دا نه دي چي په کښې د شتمني ټولې په خلاف وینا وي بلکې هر هغه ناوړه کار ته یې اشاره کړې چي د ټولني یا وګړو دپاره زیان مند وي.

"له خپلي برېستني سره پښې سمي غزول په کار دی"(14)

دا متل اصلاحي او عمومي بڼه لري چي د ټولني دپاره په عمومي توګه خپلول یې په کار دي. په دې متل کښې ژوره معنا پرته ده. د ژوند هرګام اخیستلو مخکي باید خپل وس ته وکتل شي چي ایا کوم عمل چي کولو اراده شوې ده، ایا دا کار زما په وس کښې راځي که نه؟ د دې عمل اثرات په نظر کښې نیول ضروري دی.دا متل د یوه وګړي یا ټولني دواړو دپاره دی.

په دې متل کښې و هر چا ته خپله لاره وربه ګوته شوې ده چي د خپل وس سره سم عمل تر سره کړي خو که چیري داسي و نه کړل شي نو زیان وراوښتل یقیني دی.برېستن په معنا د دائره عمل ده.له دې دائره عمل څخه په ټولنه کښې زیاتره معاشي دائره عمل اخیستل کیږي. یاني د پیسو کارول باید په پام سره وشي او پر سم ځای او پر سم وخت ولګول شي. که داسي نه وکړل شي، احتیاج مند کېدای شي چي په پښتي ټولنه کښې ښه نه ګڼل کیږي او نه په اسلامي توګه ښه ګڼل کیږي. ځکه چي په خپلو پیسو کارولو کښې له بخل او اسراف څخه کار نه واخیستل شي، چا ته نه اړ کیږي.

په دې ډول که دغه عمل پر ټولنیزه سویه وکړل شي، هغه ټولنه هم له احتیاجه خلاصېدلای شي. دا متل د معاشیاتو و ډېر اساسي اصول ته اشاره کوي؛ که چیري امد او خرچ برابر وي، د اقتصادي پرمخ تګ امکانات شته.

"اوسپنه چې ټکېږي ، لاپخېږي"15

دا متل د انسان د شخصیت په جوړېدو کښې مرسته کولای شي. په دې انساني خودي راوېښولو او مضبوطه کولو هڅه شوې. دا خودي انفرادي هم کېدلای شي او ټولنيزه هم کېدلای شي. دا متل په ګوته کوي چي د یوې داسي ټولني له خوا رېدېدلی دی چي له کړکېچن نفسیاتي کشمکش سره مخ وي. دا نفسیاتي رویه هغه وخت راپورته کیږي کله چي د ټولني وګړي په نفسیاتي جنګ کښې راګیر وي. لکه د دوو ټولیو تر مینځ چي په کښې یوه ټولۍ د بلي استحصال کوي او تر یوه ټاکلي حدود پوري یې ساتي. د دې په نتیجه کښې وهل شوي وګړي له دې څخه را ایستلو دپاره دا ډول متلونه جوړ کړل شوي.

دا متل ډېر لوی انقلابي پیغام لري. انسان یې د اوسپني په څېر بللی. اوسپنه دا خاصیت لري چي څومره په اور کښې زیاته سره شي، هغومره ښه کار ځیني اخیتسل کېدلای شي او په طبیعت کښې پخوالی راځي. دغه ډول چي پر انسان څومره زیاته سختي راځي، هغومره به دی پخیږي. په خپل کار کښې به مهارت تر لاسه کوي.

د دې متل انقلابي پیغام دا دی چي انسان د اوسپني په څېرسخت دی او هر ډول سخته زغملای شي. خو د سختي تېرېولو وروسته د ده په طبیعت کښې د برداشت ماده زیاتېدو سره، د کلکي ارادې خاوند ګرځي او د ژوند په هر ډګر کښې بریالیتوب تر لاسه کولای شي.

"خپله شړی ښه ده، نه دبل ورېښمین شال.(16)

دبل ورېښمن شال که هرڅومره ښائسته وي. خوستا نه دی ستاپه ښه نه دي او دبل له ښاله سره منت ورسره وي. نوځکه دبل تر ورېښمی‌ن شال خپله شړی ښه وي. چي له منته خلاص وي په دې متل کي هغه دپور تنی متل خبره سوی ده. له خپلي بړستني سره پښي سمي غزول په کار دی، په دې دبل ورېښمین ښال که هرڅو دښائست دپاره

خوندور وي نو ستا پرې څه ګټه کیږي. اوکه شړی لرې نو هغه تالره دبل تروربښمين شال ښه ده، ولي چې خپله ده.

**پايله:**

له دې پورتني تحقيق څخه موږ پر دې پايله ورسېدو چې د متل مقصد يواځې په کنايي او استعاري معني کښې لټول په کار دي نه نېغ په نېغه. د متل ژبه ډېره اولسي وي، د اولس مشترکه سرمايه هم په دې ګڼل کيږي چې جوړونکي يې نه وي معلوم.

متل چونکه د هر اولس هينداره وي ځکه د ژوند د هر ډګر په هکله احوال په کښې راوړل شوي وي. همدغه ډول د پښتون اولس ژوند ژواک د متل په ښه کښې خوندي دي. په تېرو کرښو کښې موږ ولوستل چې د پښتو متل هم هغه ډول لوی لوی افکار، نظريات، نقدونه، ستاينه، د ژوند او ژوندتېرولو لاري او داسي نور ډېرڅه لري.

فرضاً د بورژوايي طبقې په ضد مبارزه کښې لوی لوی نظريات راپورته شوي او تحريکونه چلېدلي دي خو متل په ډېره ساده او اسانه ژبه کښې ډېر پخوا دې ته نه يواځي اشاره کړې ده بلکې د دې غندنه يې هم کړې ده.

په متل کښې هر ډول نقد د هر چا په هکله له دې سوبه ښکاره شوئ وي چې د هغه ليکوال معلوم نه وي ځکه که د چا په هکله وي او هغه هر څومره زوراور وي خو هيڅ بدل نه شي اخيستلای ولي چې دا د ټول اولس رېغ وي. د اولس مجموعي رېغ کله هم د ظالم مرسته نه کوي، هر کله د مظلوم سره ولاړ وي. که ورته ځير شو د هم دې اولسي مجموعي فکر له سوبه د ټولني هر وګړی له تېر وتني ځان ګوري خو که څوک له دې څخه راتېر شي ياني د اولس له شرم څخه را ووځي يا اولس دومره بې حسه شي چې د

ظالم هر ناسم ته سم وايي ؛ د ظالم پر خوښه اولسه چپه خوله شي يا يې سم ګڼي، پر داسي تولنه به هر وخت ظالم واکداره وي.

## حوالې


1. http://www.bazm.urduanjuman.com/index.php?topic=6087.0

2. https://en.wikipedia.org/wiki/Paremiology

3. طائر، محمدنواز، روهي متلونه، پښتو اکېډمي پېښور، يونيورستي بک ايجنسي، ۱۹۷۵ءلومړي چاپ مخ ۱۳

4. http://theses.gla.ac.uk/6243/1/2015SanauddinPhD.pdf

5. جمال ، پروفېسر انور ، ادبي اصطلاحات ئې لاب پرنټرز ګوالمنډي ، راولپنډي، چاپ کال ۲۰۱۵ء اشاعت دويم ، مخ ۱۲۶

6.خاوري غوټۍ د پښتو شفاهي ادبيات چاپ دولتي مطبعه کابل، ۱۳۶۶ش مخ ۱۵

7. http://www.sbbwu.edu.pk/journal/Jan%202016/6.Gender%20and%20Power%20Relationships%20
in%20the%20Language%20of%20Proverbs.pdf

8.موسیٰ ، محمد خان ، شنواری ، د متلونو قصې ، دريم ټوک ، ماسټر پرنټرز محله جنګي پېښور، چاپ کال ، ۱۹۹۹ء مخ ۳۱

9.کاکاخېل، سید تسنیم الحق، روح ادب، پښتواکېډمي پېښور یورنیورسټي، پبلک ارټ پریس پېښور، چاپ ۱۹۵۵ ، مخ ۸۶
10.دوست ، محمد ، دوست ، دپښتو اولسي ادب لاري ، چاپ پښتو ټولنه ۱۳۵۴ مخ ۵۳

11. http://theses.gla.ac.uk/6243/1/2015SanauddinPhD.pdf

12. دوست، محمد دوست، د پښتو اولسي ادب لاري، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶، مخ ۵۶

13. http://theses.gla.ac.uk/6243/1/2015SanauddinPhD.pdf

14. لېوال ، محمد فدا ،پښتو متلونه چاپ کال ۱۳۹۰ل ۲۰۱۱صدیقه خپرونه ټولنه مخ ۴۱۰

15.ژواک ، دین، محمد ، دولتي مطبعه ،چاپ کال ۱۳۴۴ ، مخ ۵۷

16.کاکاخېل، سید تسنیم الحق، روح ادب، پښتواکېډمي د پېښور یورنیورسټي، پبلک ارټ پریس پېښور، چاپ ۱۹۵۵، مخ۱۱۲